


# زکات

امر بالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو اورېدلو وزارت

لیکوونکی: قاري نبی الله «احمد»

دنده: د تحقیق او احصائې آمر

اړوند ریاست: تقنین او پلان

لړ لـــيـــک

**سريزه** ........................................................................................ **1**

**زكات** ........................................................................................ **1**

د زكات تعريف: ........................................................................................ 1

د زكات حكم: ........................................................................................ 1

د زكات د ادا كولو اهميت ........................................................................................ 5

ټولنې ته د زكات وركولو ګټې ........................................................................................ 5

زكات پراخوالی ده ........................................................................................ 7

د زكات اهداف ........................................................................................ 7

## سریزه

الحمدُ للهِ الذي جعلَ الزكاةَ أحدَ أركانِ الإسلام، ووعدَ من أخرجَها كاملةً موفورةً خالصةً الخلَفَ العاجلَ والنعيمَ المُقيمَ في دار السلام، وأوعدَ من منعَهَا أو منعَ بعضَها بعُقوبةِ الدنيا والآخرة والعذاب الأليم في دار الآلام، وأشهدُ أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الْمُلكُ وله الحمد، وأشهدُ أن محمداً عبدُه ورسولُه أمَرَهُ اللهُ بأن يُقاتِلَ الناسَ حتى يَشهدُوا أنْ لا إلهَ إلا اللهُ، وأنَّ محمداً رسولُ اللهِ، ويُقيمُوا الصلاةَ، ويُؤتُوا الزكاةَ، فإذا فَعَلُوا ذلكَ عَصَمُوا دِماءَهُمْ وأموالَهُم إلا بحقِّ الإسلامِ، وحِسابُهُم على اللهِ، اللهُمَّ صلِّ على محمدٍ وعلى آله وأصحابه وسلِّم تسليماً.

{ خُذۡ مِنۡ أَمۡوَٰلِهِمۡ صَدَقَةٗ تُطَهِّرُهُمۡ وَتُزَكِّيهِم بِهَا وَصَلِّ عَلَيۡهِمۡۖ إِنَّ صَلَوٰتَكَ سَكَنٞ لَّهُمۡۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ }[ سوره التوبه: ایت ۱۰۳]

ژباړه: اخله د دوی له مالونو نه زکات چې پاک کړې ته دوی لره او برکتي کړې ته دوی لره په دې سره او دعا کوه دوی ته بې شکه ستا دوعا د دوی لپاره تسکین ده، او الله هر څه اوري او پيژني.

زکات د اسلام له رکنونو څخه یو رکن دی او همدا راز یو له هغو اقتصادي تغيراتو څخه دی چې الله تعالی د مختلفو موخو لپاره لکه د فقر د له منځه وړلو لپاره فرض کړی دی.

په فقهي اصطلاح کې، دا هغه مقدار ته اشاره کوي چې يو شتمن مسلمان بايد د خپل ملکيت ځيني برخې د مالي مسؤوليت په توګه ورکړي، په دې ليکنه کې به لومړی د زکات لفظي او اصطلاحي مفهوم تر بحث لاندې ونيول شي. بیا په اسلام او قرآن کې د زکات اهمیت او مقام مطالعه او څېړل کېږي.

او په پای کې له فقر سره د مبارزې په برخه کې د زکات رول ته اشاره شوې ده. پایلې ښيې چې که د زکات را ټولول او مصرف په تدبير او مديريت سره ترسره شي، زکات د فقر د له منځه وړلو لپاره خورا لوړه مالي وړتيا لري.

## ستاسو د کامیابۍ په هیله

# زکات

## د زکات تعریف:

زکات په لغت کې دوه معنی لري:

اول: پاکی ته وايي، ځکه چې د زکات په ورکولو سره يې پاتې مال او شتمني پاکيږي.

دوهم: زکات زياتوالي ته ویل کیږي نو زکات ته ځکه زکات وایي چې د الله تعالی له لوري د فرض کړای شوې برخې په ورکولو سره د مال نوره برخه زياتيږي.

زکات د اسلام څلورم ستر رکن دی، چې ډير يو اهم عبادت دی د قرآنکريم په ډيرو ځايونو کې لمونځ او زکات يو ځای ذکر شوي، چې دغه دواړه عبادتونه د ټول دين ترجماني کوي، (په بدني عباداتو کې لمونځ د ټول دين نمایندګي کوي او په مالي عباداتو کې زکات د ټول دين نمایندګي کوي).

زکات په ټولنه کې د بې وزلۍ او فقر پر وړاندې تر ټولو غوره وسيله ده، د زکات په اداء سره په کور، کلي، ولس او هیواد باندې الهي رحمتونه او برکتونه نازليږي ځکه په کوم قوم کې چې رحم، زړه سوی او یو له بل سره کومک وي نو پر هغه قوم باندې هم خدای جَلَّ جَلالُه خپل رحمتونه نازلوي له بلا او آفاتو يې ساتي.

په کوم قوم کې چې زکات نه وي پر هغه به همېشه لوږه او فقر حاکم وي ډول ډول آفات به وربانديې راځي.

## د زکات فضائل

۱- زکات ادا کول د صالحانو او متقیانو صفت دی:

**إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ * آخِذِينَ مَا آتَاهُمْ رَبُّهُمْ إِنَّهُمْ كَانُوا قَبْلَ ذَلِكَ مُحْسِنِينَ *كَانُوا قَلِيلاً مِّنَ اللَّيْلِ مَا يَهْجَعُونَ * وَبِالأَسْحَارِ هُمْ يَسْتَغْفِرُونَ * وَفِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ لِّلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ [سورة الذريات:اية ١٥-١٩]**

ژباړه: یقیناً متقیان (پرهيزګاران) به په جنتونو او چینو کې وي، په داسې حال کې چې هغه څه لره به نیوونکي وي چې دوی ته يې د دوی رب ورکوي، بېشکه دوی له دې نه مخکې نیکي کوونکي وو ، دوی به د شپې په لږه برخه کې ویده کېدل ، او د سبا ختلو پر مهال به دوی استغفار کاوه ،او د دوی په مالونو کې به د سوالګرو او د محروم (مسکین) حق و.

په قرآنکريم کې د کامیابو مؤمنانو له ډلې څخه يو هم د زکات ورکوونکي کسان دي:

**قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ* الَّذِينَ هُمْ فِي صَلاتِهِمْ خَاشِعُونَ * وَالَّذِينَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُونَ * وَالَّذِينَ هُمْ لِلزَّكَاةِ فَاعِلُونَ [سورة المؤمنون/اية١-٤]**

ژباړه : په باوري توګه هغو مؤمنانو برى موندلی، هغه کسان چې په خپل لمانځه کې عاجزي کوي، هغه کسان چې له بدو کارو او بدو ويناوو لرې اوسي، هغه کسان چې د زکات ورکوونکي وي.

٢ -د مال برکت او زياتوالی:

د زکات په اداء کولو سره الله تعالى په مال کې برکت اچوي، الله سبحانه وتعالى فرمايي:

**يَمْحَقُ اللَّهُ الْرِّبَا وَيُرْبِي الصَّدَقَاتِ وَاللَّهُ لاَ يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ أَثِيمٍ [سورة البقره:آلايات ٢٧٦]**

ژباړه : الله ﷻ سود له منځه وړي او خيراتونه زياتوي او الله نا شکره ګنهکار نه خوښوي.

رسول الله ﷺ فرمايي :

**«مَنْ تَصَدَّقَ بِعَدْلِ تَمْرَةٍ مِنْ كَسْبٍ طَيِّبٍ، وَلا يَقْبَلُ اللَّهُ إِلاَّ الطَّيِّبَ، وَإِنَّ اللَّهَ يَتَقَبَّلُهَا بِيَمِينِهِ،ثُمَّ يُرَبِّيهَا لِصَاحِبِهِ، كَمَا يُرَبِّي أَحَدُكُمْ فَلُوَّهُ، حَتَّى تَكُونَ مِثْلَ الْجَبَلِ] [صحيح البخاري ١٤١٠]**

ژباړه : الله پاک يوازې د حلال مال صدقه قبلوي، چا چې د يوې خرما په اندازه حلال مال صدقه کړ ، الله ﷻ هغه پخپل بلا کيف لاس کې نيسي او هغه ته داسې وده ورکوي لکه تاسې چې کره آس ته روزنه او پالنه ورکوی، تر هغه چې دا خرما په اندازه د يوه غره شي.

او په يو بل حديث شريف راغلي:

**«ما نقصت صدقة من مال» [صحيح المسلم ٢٠٢٩]**

ژباړه : په زکات او صدقې سره مال نه کميږي.

ابی هريرة رضی الله عنه وايي چې رسول الله ﷺفرمايلي:

**«قَالَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: أَنْفِقْ أُنْفِقْ عَلَيْكَ» [صحيح البخاري ٧٤٩٦]**

ژباړه: هر بنده ته د الله تعالى دا پيغام دی چې ته زما په اړمندو بنده ګانو انفاق او خرڅ کوه زه به د خپلی خزانې نه تا لره درکړم.

٣ -د ګناهونو معافي او بخښنه:

د زکات په وجه مال پاکېږي او د بنده ګناهونه معاف کېږي.

د زکات په ادا کولو سره مال پاک او په مال کې چې د زکات د مستحقينو کوم حق دی هغه حصه هغوی ته سپارل کيږي، په معنوي لحاظ د ګناهونو څخه پاکېدل او د فنا کېدونکو څيزونو د شوق او محبت څخه د زړه پاکوالی دی، الله سبحانه تعالى فرمايي:

**[خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِم بِهَا وَصَلِّ عَلَيْهِمْ إِنَّ صَلاَتَكَ سَكَنٌ لَّهُمْ وَاللّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ] [ سوره التوبه آلاية ١٠٣]**

ژباړه : د دوی له مالونو څخه صدقه (زکات) واخله څو دوی د هغې (صدقې) له مخې پاک او برکتي کړې، او دوی ته دعا وکړه په رښتيا سره چې ستا دعا دوی ته هوساينه ده.

همدارنګه الله تعالى د زکات په وجه د بنده ګناهونه معاف کوي لکه چې نبي ﷺ فرمايي :

**« والصدقة تطفيء الخطيئة كما يطفيء الماء النار. [الترغيب والترهيب/ش ١٢٨٠]**

ژباړه : زکات او صدقه ګناهونه داسې له منځه وړي لکه اوبه چې اور سړوي.

۴ -له آفاتو څخه د مال ساتنه:

د زکات اداء کول د مال څخه د شر او آفت د مخنیوي سبب ګرځي ،رسول الله ﷺ فرمایلي دي:

«مَا مِنْ يَوْمٍ يُصْبِحُ الْعِبَادُ فِيهِ، إِلاَّ مَلَكَانِ يَنْزِلاَنِ، فَيَقُولُ أَحَدُهُمَا: اللَّهُمَّ أَعْطِ مُنْفِقًا خَلَفًا، وَيَقُولُ الآخَرُ: اللَّهُمَّ أَعْطِ مُمْسِكًا تَلَفًا»[صحيح البخاري:ش ۱۴۴۲]

ژباړه : هره ورځ دوې ملائکې ځمکې ته را کوزیږي، یوه یې وایي : ای الله! څوک چې ستا په لار کې انفاق کوي هغې ته بدله ورکړي، او بله یې وایي: ای الله! څوک چې ستا په لار کې انفاق (خرچ ) نه کوي د هغه مال هلاک کړه، یعنې د هغې مال تلف کړې.

همدارنګه رسول الله ﷺ فرمایي :

«من أدى زكاة ماله فقد ذهب عنه شره» [الترغيب والترهيب 743 – (حسن لغيره)]

ژباړه : چا چې د خپل مال زکات ورکړ ، د مال له شر او آفت نه په امن شو.

نن عصر کې همدا وجه ده هغه خلک چې زکات نه ورکوي د هغوی په کښتونو او فصلونو همدارنګه مالونو باندې ډول ډول آفتونه نازلیږي.

۵ -زکات ورکوونکی به د قیامت په ورځ د الله ﷻ د رحمت په سیورې کې وي:

د قیامت په ورځ به اوه کسان د الله تعالی د رحمت تر سیورې لاندې وي د هغه ډلې څخه یو هم زکات او صدقه ورکوونکی دی .

سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللَّهُ فِي ظِلِّهِ، يَوْمَ لاَ ظِلَّ إِلَّا ظِلُّهُ: الإِمَامُ العَادِلُ، وَشَابٌّ نَشَأَ فِي عِبَادَةِ رَبِّهِ، وَرَجُلٌ قَلْبُهُ مُعَلَّقٌ فِي المَسَاجِدِ، وَرَجُلاَنِ تَحَابَّا فِي اللَّهِ اجْتَمَعَا عَلَيْهِ وَتَفَرَّقَا عَلَيْهِ، وَرَجُلٌ طَلَبَتْهُ امْرَأَةٌ ذَاتُ مَنْصِبٍ وَجَمَالٍ، فَقَالَ: إِنِّي أَخَافُ اللَّهَ، وَرَجُلٌ تَصَدَّقَ، أَخْفَى حَتَّى لاَ تَعْلَمَ شِمَالُهُ مَا تُنْفِقُ يَمِينُهُ، وَرَجُلٌ ذَكَرَ اللَّهَ خَالِيًا فَفَاضَتْ عَيْنَاهُ "[صحيح البخارى/ش ۶۶۰]

ژباړه: اوه تنه دي چې دوی به الله ﷻ د قیامت په ورځ تر خپل سیورې لاندې راولي چې له دغه سیورې پرته به یې بل سیوری نه وي: عادل امام، هغه ځوان چې د خپل رب په عبادت کې لوی شوی، هغه سړی چې زړه یې له جوماتونو سره تړلی وي. دوه نفره چې د الله ﷻ لپاره یو بل سره مینه وکړي د الله ﷻ لپاره سره راټول شي او د الله ﷻ لپاره یو له بل سره جلا شي. او هغه کس چې ورڅخه د یوې شایسته او مرتبې والا ښځې پوښتنه وشوه، ویې ویل: زه له الله ﷻ وېرېږم.او هغه څوک چې صدقه ورکړي. داسې چې چپ لاس یې په دې پوه نشي چې ښي لاس څه ورکړه او هغه څوک چې په پټه کې د الله ﷻ ذکر وکړي او سترګې یې له اوښکو ډکې شي.

٦ -د دنیا او مال له محبت څخه نجات:

له دنیا او دولت سره محبت ستر مرض دی چه ددې مرض په وجه سړی بخیل ،سخت زړی او بې رحمه ، بې مینې او علاقې وي او د همدې مینې په وجه ناحقه مالونه خوري او پر نورو باندې ظلم او تیری کوي.

نو کله چه څوک د خپل خوږ مال څخه د الله تعالی د رضا لپاره زکات ورکړي د هغه په زړه کې د الله پاک د محبت ولولې په جوش راشي او د فاني دنیا محبت یې له زړه وځي ،الله تعالی فرمایي :

لَن تَنَالُواْ الْبِرَّ حَتَّى تُنفِقُواْ مِمَّا تُحِبُّونَ [سورة العمران:آلایة۹۲]

ژباړه : له سره به تاسې د (پوره) ښېګڼې (درجه ) و نه مومئ تر څو چې له هغه شي څخه چې ستاسې خوښ وي ( د الله په لار کې ) خيرات ور نه کړئ.
زکات ته ځکه صدقه ويل کېږي چې دا په صدق او رښتينولۍ باندې دلالت کوي کوم چې د الله تعالی د رضا لپاره يې مصرف کوي.
۷ -د نعمت شکرانه:
يقيناً هغه کس چه زکات اداء کوي ، نو پوره يقين لري چه ما خو څه نه لرل ای الله ﷻ! تا پر خپل فضل مالداره وګرځولم نو نن ورځ په ډېر اخلاص ستا له راکړي مال څخه يواځې ځلويښتمه برخه پر بې وزلو او مسکينانو ويشم، نو شکر خو همدې ته وايي چه نعمت د الله پاک لخوا يو فضل وګڼل شي او د هغه حق اداء شي:
ابن قيم رحمه الله د شکر ارکان داسې بيانوي:
په نعمت اعتراف کول (چې دغه نعمت ماته د الله تعالی د جانبه را کړل شوی دی .
د نعمت په اړه خبرې کول او د هغه ښکاره کول.
د نعمت انفاق يا خرڅول د نعمت د عطا کوونکي په لار کې ( د مال شکر اداء کول د هغه زکات او انفاق دی په لاره د الله کې ).
۸ -زکات ورکوونکي د سخيانو په ډله کې حساب دي:
د زکات ورکول تر ټولو غوره سخا ده او زکات نه ور کول لوی بخل دی، رسول الله ﷺ فرمايي:
**ارحموا من في الأرض يرحمكم من في السماء [الترمذي ۱۹۲۴ او سلسلة صحيحة ۹۲۵]**
ژباړه: تاسې د ځمکې په مخلوق رحم کوئ رحم به وکړي پر تاسې هغه (الله ﷻ) چه د آسمانو خالق دی.
۹ -د خلاصون لاره:
د الله تعالی رضا چې د الله پاک رضا د هر مؤمن هدف او آرمان وي، الله سبحانه وتعالی فرمايي:
**إِنَّ الَّذِينَ آمَنُواْ وَعَمِلُواْ الصَّالِحَاتِ وَأَقَامُواْ الصَّلاَةَ وَآتَوُاْ الزَّكَاةَ لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلاَ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَ هُمْ يَحْزَنُونَ [سورة البقره:آلاية۲۷۷]**
ژباړه : يقيناً هغه کسان چې ايمان يې راوړی او ښه کارونه يې کړي دي او لمونځ يې قائم کړی دی او زکات يې ورکړی دی ، د هغوی اجر د دوی د رب سره دی پر دوی نه کومه ويره شته او نه به غمجن شي. او همدارنګه فرمايي:
**وَسَيُجَنَّبُهَا الْأَتْقَى * الَّذِي يُؤْتِي مَالَهُ يَتَزَكَّى [سورة اليل/آلاية ۱۷-۱۸]**
ژباړه : د (دوزخ د اور نه ) به هغه متقيان خلک تر ټولو ژر ګوښه شي چې خپل مال د الله ﷻ په لار کې ددې لپاره لګوي چې د ده روح او زړه ته سپېڅلتيا حاصله شي.
الله پاک دې مونږ ته د زکات په ښه شان ادا کولو توفيق راکړي (آمين يا رب العلمين ).

## د زکات احکام

په قرآنکريم تر ۸۰ زياتو آيتونو کې زکات له لمانځه سره پيوسته ذکر شوی دی.

وَأَقِيمُواْ الصَّلاَةَ وَآتُواْ الزَّكَاةَ وَارْكَعُواْ مَعَ الرَّاكِعِينَ [سورة البقره: اية 43].

ژباړه: لمونځ قايموي (په ښه شان سره له ټولو حقوقو ) ! او ورکوي زكات ! او ركوع كوي سره له ركوع كوونكو (لمونځ كوونكو مسلمانانو).

وَأَقِيمُوا الصَّلاَةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ [سورة النور آلاية ٥۶].

ژباړه: لمونځ قايموي (په ښه شان سره له ټولو حقوقو ) ! او ورکوي زكات ! او د پيغمبر اطاعت وکړي.

## د زکات د اداء کولو اهميت

رسول الله ﷺ فرمايي:

ماآمَنَ بِي مَنْ بَاتَ شَبْعَانًا وَجَارُهُ جَائِعٌ إِلَى جَنْبِهِ وَهُوَ يَعْلَمُ بِهِ [المعجم الكبير للطبرانی]

ژباړه: ځوک چې موړ ويده شي او همسايه يې وږی وي، او ورباندې خبر هم وي هغه پر ما ايمان نلري.

زکات د اسلام دريیم رکن دی، زکات صدقه بلل کېږي، زکات په ټولنه کې يووالی او شفقت زياتوي.

د الله تعالی د رضا لپاره زکات ورکول ايمان او ثواب زياتوي، د صدقې ورکول د صداقت څرګندونه کوي، د حرص او خود غرضۍ څخه ځان پاکول دي، ځکه چې پيسې له محتاجو سره شريکې کېږي.

نفس له بخل څخه پاکوي، او دا د بې وزلو او فقيرانو لپاره تسلي دی، صدقه د پيسو زياتوالی او برکت زياتوي، لکه څنګه چې خدای تعالی فرمايي:

مَّثَلُ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَٰلَهُمْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ أَنۢبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ فِى كُلِّ سُنۢبُلَةٍ مِّا۟ئَةُ حَبَّةٍ ۗ وَٱللَّهُ يُضَٰعِفُ لِمَن يَشَآءُ ۗ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ. (سورة البقرة آلاية ٢۶١).

ژباړه: د هغو کسانو مثال چې د الله په لار کې خپل مالونه لګوي د هغه دانې په شان ده چې اوه وږي زرغون کړي، په هر وږي کې سل دانې دي، او الله (اجر) زياتوي چا لپاره چې وغواړي، او الله ﷻ ډير پراخۍ والا، ښه پوه دی.

## ټولنې ته د زکات ورکولو ګټې

په اسلام کې د زکات يوه ګټه دا ده چې دا يو انفرادي عبادت دی او په ورته وخت کې يو ټولنيز عبادت هم دی ځکه د زکات راټولول او بيا يې په بې وزلو تقسيمول دا يو نظام او کارمندانو ته اړتيا لري چې د شتمنو څخه يې راټول کړي او په اړمنو خلکو يې وويشي، نو دغه راټولونکي او بېرته تقسيمونکي د دوی لپاره دا ټولنيز عبادت شو او هغه چې زکات ورځخه را اخلي د هغه لپاره انفرادي عبادت شو.

همدارنګه زکات لومړنی منظم قانون و، چې په بشپړ او هر اړخيزه توګه يې ټولنيز امنيت ترلاسه کړ.

امام الزهري رحمه الله د زکات په اړه عمر بن عبدالعزيز رحمه الله ته ليکلي: په دي کې د بې وزلو او معيوبينو لپاره يوه برخه ده، د هر مسکين لپاره چې په ځمکه کې د مرستې او حرکت کولو توان نه لري برخه ده.

د هغو مسکینانو لپاره برخه ده چې سوال کوي او توان نلري، د اسلام په بندیانو کې د هغو کسانو لپاره چې په زندانونو کې دي او هیڅ نلري برخه ده، د هغو مسکینانو لپاره یوه برخه ده چې په جوماتونو کې حاضریږي او هیڅ برخه یعني منظم معاش نه لري او سوال نه کوي له خلکو نه.

د هغو کسانو لپاره برخه ده چې په غربت کې دي او قرضداره دي، د هر هغه مسافر لپاره برخه ده چې هېڅ سرپناه یا کورنۍ نلري چې د پناه غوښتنه وکړي ...

زکات د اقتصادي فعالیتونو په هڅولو کې مهم رول لري، ځکه چې که یو مسلمان خپله پیسې ذخیره کړي، نو مجبور دی چې هر کال د ۲,۵٪ څخه کم مقدار کې زکات ورکړي، چې دا د ضایع کېدو لامل کېږي. له همدې امله هغه سوداګرۍ کولو ته مجبوریږي ترڅو بیا د پیسو د ګټې څخه زکات ورکړي.

په دې توګه پیسې له ذخیرې څخه راوځي او دوران ته راځي، اقتصادي حرکت هڅوي او ټول ملت د دې ټولو پیسو څخه ګټه پورته کوي.

د زکات یو هدف د خلکو تر منځ د اختلافاتو کمول دي، زکات یو له هغو وسیلو څخه دی چې اسلام یې د اختلافاتو کمولو لپاره کاروي.

زکات هم د ځوانانو په هڅولو کې لوی رول لوبوي، هغوی سره په لګښتونو کې مرسته کوي، فقهاوو پریکړه کړې هغه کسان چې د بې وزلۍ له امله واده نشي کولی د زکات څخه به د دوی سره د واده په کولو کې مرسته کوئ.

الله تعالی پر مسلمانانو زکات ځکه وضع کړی چې ټولنې ته ګټه رسوي، د زکات له ګټو څخه عبارت دي:

۱) د اړمنو کسانو ټولنیز او د ژوند وضعیت ښه کول.

۲) د زکات یوه مهمه ګټه دا ده چې دا د ټولنې د غړو ترمنځ د اقتصادي مساواتو د رامنځته کولو لپاره کار کوي، په ټولنه کې فقر کموي او د اقتصادي مساواتو په ترلاسه کولو کې مرسته کوي.

۳) زکات د بې وزلو او اړمنو خلکو مالي حالت ښه کوي او د دوی د ژوند خورا مهمو اړتیاو پوره کولو کې مرسته کوي.

۴) مهاجرینو ته زکات ورکول ځکه چې هغه خپل هېواد او ځمکه پرېږدي او خوندي ځای ته لاړ شي، مهاجر نشي کولی سمدستي پیسې ترلاسه کړي، زکات ورکول له دوی سره د مهاجرت او مالي بارونو په کمولو کې مرسته کوي هغه چې دوی ورسره مخ وي.

۵) زکات ورکول غلا او سوال کول کموي.

٦) زکات ورکول په ټولنه کې د امنیت کچه لوړوي.

۷) زکات د ټولنې د غړو تر منځ اعتماد زیاتوي او د ټولنې په یووالي کې مرسته کوي، زکات ټولنیزې اړیکې هم پیاوړې کوي او د ټولنې د غړو ترمنځ ملګرتیا او پېژندګلوي رامنځته کوي.

## زکات پراخوالی ده

په اسلام کې زکات پراخ مفهوم لري او هر څيز ته زکات ټاکل شوی، چې په لاندې ډول دي:

د پت زکات د خلکو ستونزې اوارول دي.

له ګناهونو سترګې پټول د سترګو زکات دی.

د علم، حکمت او قرآن اورېدل د غوږو زکات دی.

مسلمانانو ته نصيحت کول د غافلينو راويښول او د خدای ذکر کول د ژبې زکات دی.

د خلکو د پوهولو لپاره ليکنه کول د لاس زکات دی.

د جهاد په لار کې او په زده کړو پسې منډې، په خلکو کې جوړجاړی او د ښو خلکو ليدلو ته تلل د پښو زکات دی.

خپرول يې د علم زکات دی.

انصاف د ځواک زکات دی.

الهي امرونو ته غاړه ايښوودل د روغتيا زکات دی.

د بې عقلو زغمل د عقل زکات دی. (غررالحکم او ميزان الحکمة)

## د زکات اهداف

زکات اخيستونکی له بخل څخه پاکوي او د پيسو له غلامۍ څخه يې خلاصوي، دا دوه سترې رواني ناروغۍ دي چې انسان پرې اخته کېږي او بدبختۍ کېږي، له همدې امله الله تعالی فرمايي:

**وَمَنْ يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فأولئك هُمُ المُفلِحُون[سورة الحشر:آلآية ٩]**

ژباړه: او هر هغه څوک چې د خپل نفس له بخيلۍ نه بچ کړی شو، نو همدغه کسان کامياب (او په مراد رسيدلي) دي.

او همدارنګه رسول الله ﷺ فرمايي:

**"تَعِسَ عَبدُ الدِّرهَم، تَعِسَ عبد القَطيفَة..." رواه البخاري.**

ژباړه: بد بخته ده بنده د درهم او بد بخته ده بنده د قيمتي جامې...

زکات د احسان زده کولو لپاره روزنه ده، او د الله ﷻ په لار کې نفقه کول دي، زکات ورکول د نيکو خلکو لپاره صفت دی، زکات د خدای د نعمتونو شکر، د زړه د دنيا او د مينې علاج او د روح د پاکوالي وسيله ده.

زکات اخیستونکی له اړتیا څخه خلاصوي، که هغه مادي اړتیا وي - لکه خواړه، جامې او کور - یا حیاتي او رواني اړتیا وي - لکه واده - یا اخلاقي، فکري اړتیا وي لکه د علم کتابونه.

څکه چې زکات په دې ټولو اړتیاوو مصرفیږي او په دې توګه مسکین په خپلو ټولنیزو وظیفو کې برخه اخیستلای شي او ځان د ټولنې د بدن یو ژوندی غړی احساسوي.

زکات اخیستونکی د حسد او کینې له ناروغۍ څخه پاکوي. څکه کله چې یو بې وزله کس ووینې چې د هغه شاوخوا خلک په آرامۍ او عیش و آرام کې ژوند کوي، او دوی د هغه سره مرسته نه کوي، د هغه زړه په ندرت سره د دوی او په ټوله کې د ټولنې په وړاندې د حسد، کرکې او نفرت څخه ډک شي.

په دې توګه، د ورورولۍ اړیکې قطع کېږي، د مینې احساسات له منځه ځي، او د ټولنې یووالي ټوټه ټوټه کېږي، که بې وزله کس سره شاوخوا خلک همکاري وکړي ده ته زکات ورکړي نو د بې وزله کس ژوند به هم دوی غوندې ارام شي نتیجه کې به نفرتونه له منځه ولاړ شي.

## د زکات نه ورکوونکو عذابونه :

الله ﷻ فرمایي: **وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلاَ يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ [سورة التوبه: آلاية ۳۴].**

ژباړه: او هغه کسان چه خزانه کوي سره زر او سپین زر (مال او دولت ) او نه لګوي هغه په لاره د الله ﷻ کې نو زیرې ورکړه دوی ته په عذاب دردناک سره .

بل ځای کې فرمایي:

**وَلاَ يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللهُ مِن فَضْلِهِ هُوَ خَيْرًا لَّهُمْ بَلْ هُوَ شَرٌّ لَّهُمْ سَيُطَوَّقُونَ مَا بَخِلُواْ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ [سورة آل عمران:آلاية ۱۸۰]**

ژباړه: پرکومو خلکو چې الله تعالی د خپل مال او دولت پیرزو کړې ده او هغه له شومتوب نه کار اخلي په دې خیال کې دی نه چې دا بخل او زر دوستی د دوی په حق ښه ده ،بلکې دا دهغوی په حق ډیره بده ده ، هغه چې په خپلې بخیلۍ سره څه را ټولوي هماغه به د قیامت په ورځ دطوق په شکل غاړې ته ور واچول شي.

همدارنګه رسول الله ﷺ فرمایي:

**مَامِن أَحَدٍ لاَ يُؤَدِّى زَكَاةَ مَالِه اِلاَّ مُثِّلَ لَه يومَ القِيَامَةِ شُجاَعاً اَقرَعَ حَتَّى يَطُوقَ عُنُقَه [ابن ماجه].**

ژباړه: څوک چې د خپل مال زکات ورنه کړي نو مال به یې د قیامت په ورځ د داسې مار په صورت مجسم شي چې سر به یې پک وي او دده تر غاړې به ور تاوشي.

**مانِعُ الزَّكاةِ يومَ القِيامَةِ فِي النّارِ [طبرانی]**

ژباړه: څوک چې د زکات له ورکړی منع کوي نو د قیامت په ورځ یې ځای دوزخ دی.

ومن الله توفیق